د افغانستان اسلامي امارت

**د معیار او کیفیت اداري**

**او**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون**

**ترمنځ**

**د همکاریو تفاهم لیک**

**تفاهم‌نامه همکاری**

**میان**

**اداره معیار و کیفیت**

**و**

**پوهنتون پولی‌تخنیک کابل**

## بسم الله الرحمن الرحیم

## الحمدالله وحده والصلاه والسلام علی من لا نبی بعده و علی آله و صحبه اجمعین.

### سريزه

دا يو ځرګنده اصــل دی چې د انســاني، مســلکي، فني او تخصــصي ـ سرچينو او ظرفيتونو هدفمند او اغېزمنه اســتفاده د ســکتوري ادارو او وزارتونو له لوري د نا فذو قوانينو، حقوقي اسـنادو او تاکل شـويو اداري چوکاټونو په رڼا کې د انکشـافي، فني او سـتراتيژيکو موخو د تحقق له اسـاسـی او اغېزمنو لارو څخه شمېرل کېږي.

د معيارونو د رعايت اهميت ته په کتو، چې د کيفيت د لوړولو، اقتصادي پراختيا، د صنعتونو د ودې، د فني چارو د تنظيم او په داخلي او نړيواله کچه د باور وړ اسـاس رامنځته کولو لپاره اړين دی، د معتبرو معيارونو پلي کول او رعايت کول د هر هېواد د پرمختګ، سيالۍ وړتيا او ځان بسياينې په بهير کې له ا ساسي اړتياوو څخه ګڼل کېږي.

د افغانستان د ا سلامي امارت د معيار او کيفيت اداره، د داخلي معيارونو د تدوين، بياکتنې او ترويج په برخه کې د يوازينۍ مسؤلې او صلاحيت‌لرونکې ادارې په توګه، د همغږۍ رامنځته کولو، د خدماتو او محصــولاتو د کيفيت د لوړولو، د فني او صنعتي فعاليتونو د تنظيم په برخه کې ا ساسي او ټاکونکې ونډه ترسره کوي. دغه اداره همدارنګه د اغېزمنو پروګرامونو د طرحې او تطبيق له لارې، د دولتي ادارو، خصـوصـي سـکتور او ټولنې ترمنځ د معيارونو د کارونې د کلتور د اسـاسـی کولو په برخه کې ځرګنده او مهمه ونډه لري او د کيفيت د ښــه والي، د عامه باور د زياتوالي او دوامدارې ودې لپاره زمينه برابروي.

د کابل پولي‌تخنيک پوهنتون د افغانستان له سترو او با اعتباره تحصيلي او مسلکي انجنيري اساسات څخه شمېرل کېږي، چې د تاسيس له پيل څخه (۱۳۴۲ لمريز کال) تر اوسه يې ستراتېژيک هدف د دولتي سکتور او آزاد بازار لپاره په ټولو تخصصي برخو او ساحو کې د مسلکي کادرونو او متخصصو اشخاصو روزنه ده. د دې تحصيلي مرکز د فعاليت په بهير کې، ګڼ شمېر ځوانان روزل شوي دي څو د اسلامي او افغاني ارزښتونو په رڼا کې نوې پوهه تر لاسه کړي او د نړۍ له علمي زېرمو څخه د ملک د اقتصادي، کلتوري او تاريخي ګټو لپاره استفاده وکړي او د ټولنې په علمي، ټولنيز او اقتصادي پرمختګ کې مهم رول ولوبوي.

### مقدمه

این یک اصل واضح است که استفاده هدفمند و مؤثر از منابع و ظرفیت‌های انسانی، مسلکی، فنی و تخصصی ادارات و وزارت‌های سکتوری، در چارچوب قوانین نافذ، اسناد حقوقی و ساختارهای اداری تعیین‌شده، از بنیادی‌ترین و مؤثرترین راه‌های تحقق اهداف انکشافی، فنی و استراتیژیک به شمار می‌رود.

با توجه به اهمیت رعایت معیارها در ارتقای کیفیت، توسعه اقتصادی، رشد صنایع، تنظیم امور فنی و ایجاد زیربناهای قابل اعتماد در سطوح داخلي و جهانی، تطبیق و رعایت معیارهای معتبر، یکی از نیازهای اساسی در مسیر پیشرفت، رقابت‌پذیری و خودکفایی هر کشور محسوب می‌گردد.

اداره معیار و کیفیت امارت اسلامی افغانستان، به‌عنوان یگانه نهاد مسئول و دارای صلاحیت در زمینه تدوین، بازنگری و ترویج معیارهای داخلی، نقش اساسی و تعیین‌کننده‌ای در ایجاد هماهنگی، ارتقای کیفیت خدمات و محصولات و تنظیم فعالیت‌های فنی و صنعتی ایفا می نماید. این اداره همچنان با طرح و تطبیق برنامه‌های مؤثر، در راستای نهادینه سازی فرهنگ استفاده از معیارها در میان ادارات دولتی، سکتور خصوصی و جامعه، سهم برجسته و قابل ملاحظه ای دارد و زمینه را برای بهبود کیفیت، افزایش اعتماد عمومی و رشد پایدار فراهم می‌سازد.

پوهنتون پولی تخنیک کـابـل یکی از بزرگ‌ترین و بـا اعتبارترین مراکز تحصـیلی و تخصـصـی انجنیری در افغانسـتان اسـت که از اوایل تاسـیس خویش در سـال (۱۳۴۲ هــــ.ش) تا اکنون هدف سـتراتیژیک آن تربیه‌ی کادرها و افراد متخصـص در تمام عرصـه‌ها و بخش‌های اختصـاصـی برای سـکتور دولت و بازار آزاد می‌باشـد. در طول ایجاد این نهاد تحصـیلی، تعدادی زیادی از جوانان را قادر سـاخته‌اند تا با پای بندی به ارزش‌های اسـلامی و افغانی دانش جدید کسـب نمایند و از اندوخته های علمی جهان به مفاد اقتصـادی، فرهنگی و تاریخی کشـور استفاده‌کنند و نقش مهمی را در توسعه علمی، اجتماعی و اقتصادی جامعه ایفا نمایند.

دا پوهنتون اوس مهال په اتو پوهنځیو کې (ساختماني انجنيري، الکټرومېخانیک انجنيري، جیولوجي او معادن، انجنيري جیوماتیک، د کیمیاوي صنايعو انجنيري، کمپیوټر ساینس، د ترانسپورټي ودانیو انجنیري، او د اوبو او چاپېریال انجنیري) د لیسانس په کچه او همدارنګه په ۱۴ پروګرامونو کې د ماسټرۍ په کچه او دوه پروګرامونو کې د دوکتورا په کچه تحصیلي خدمات وړاندې کوي.

دا تفاهم لیک د افغانستان د اسلامي امارت د معیار او کیفیت ادارې او د کابل پولي‌تخنیک پوهنتون ترمنځ، د هغې تفاهم لیک پر اساس چې په / /۱۴۴۷ هـ.ق نېټه د معیار او کیفیت ادارې او د لوړو زده‌کړو وزارت ترمنځ لاسلیک شوې دی، د دواړو لورو د ګډو علاقو په ساحو کې په ځانګړې توګه د کورنيو اړتیاوو پر اساس د علمي او تطبیقي څېړنو، د معیارونو د تدوین او بیاکتنې، د علمي او اکاډمیک ظرفیتونو د لوړولو او په ملک کې د کیفیتي زیربناوو د پراختیا په موخه ترتیب او لاسلیک کېږي.

دواړه لوري، د دې همکارۍ اهمیت ته په درک کولو سره او د علمي مرکزونو او فني - تخصصي مراجعو ترمنځ د تعامل د پیاوړتیا او پراختیا په موخه او همدارنګه د کیفیت د لوړولو، د خلکو د ژوند د خوندیتوب د تأمین او د ملک د اقتصادي ودې په برخه کې د علم او څېړنې پر رول په ټینګار سره، هوکړه کوي چې د موجوده ظرفیتونو له اغېزمنې استفادې سره، د دوامدارو، هدفمندو او متقابلو همکاریو لپاره مناسبې زمینې برابرې کړي.

د پورته مواردو په نظر کې نیولو سره، د معیار او کیفیت اداره او د کابل پولي تخنیک پوهنتون، چې له دې وروسته به « لوري » بلل کېږي، په داسې حال کې چې د خپل بشپړ حقوقي او شرعي اهلیت لرونکي دي، دغه تفاهم لیک لاسلیکوي.

این پوهنتون در حال حاضر در هشت پوهنځی به سویه لیسانس (ساختمانی، الکترومیخانیک، جیولوجی و معادن، انجنیری جیوماتیک، انجنیری صنایع کیمیاوی، کمپیوتر سانیس، انجنیری ساختمان‌های ترانسپورتی و انجنیری آب و محیط زیست) و در ۱۴ برنامه ماستری و دو برنامه دکتورا مصروف ارایه خدمات تحصیلی می‌باشد.

این تفاهم‌نامه میان اداره معیار و کیفیت و پوهنتون پولی‌تخنیک کابل برا ساس تفاهم‌نامه‌ی که در تاریخ ذیل / /۱۴۴۷ هـ.ق میان اداره معیار و کیفیت و وزارت محترم تحصیلات عالی به امضا رسیده است، به‌منظور گسترش و تحکیم همکاری‌های علمی، تحقیقی و تخصصی در حوزه‌های مورد علاقه طرفین، به‌ویژه در زمینه تحقیقات علمی و تطبیقی مبتنی بر نیازهای داخلی، تدوین و بازنگری معیارها، ارتقای ظرفیت های علمی و اکادمیک و توسعه زیربناهای کیفیت در کشور تنظیم و به امضا می‌رسد.

طرفین، با درک اهمیت این همکاری و در راستای تقویت و توسعه تعامل میان نهادهای علمی و مراجع تخصصی فنی، و با تأکید بر نقش دانش و تحقیق در ارتقای کیفیت، تأمین مصونیت زندگی مردم و رشد اقتصادی کشور، توافق می نمایند تا با بهره‌گیری مؤثر از ظرفیت های موجود، زمینه های همکاری پایدار، هدفمند و متقابل را فراهم سازند.

بادرنظرداشت موارد فوق، اداره معیار و کیفیت و پوهنتون پولی‌تخنیک کابل که از این پس « طرفین » نامیده می شوند، در حالی‌که دارای اهلیت کامل حقوقی و شرعی خویش می‌باشند، این تفاهم‌نامه را به امضا می‌رسانند.

## لومړی فصل
## عمومیات
## د تفاهم لیک د لاسلیک موخه

**لومړۍ ماده:**

دا تفاهم لیک د دواړو لورو د تخصصي فني ظرفیتونو څخه د اعظمي ګټې اخیستنې په موخه، د علمي او څېړنیزو فعالیتونو د ترسره کولو، د کیفیت د لوړولو، د معیارونو د کارونې د کلتور د اساسي کولو، د ظرفیتونو د پیاوړتیا او د داسې متخصصو انساني قواوو د روزنې لپاره چې د ملک دیني او کورنیو ارزښتونو ته ژمن وي، لاسلیک شوې ده.

**موخې**

**دویمه ماده**

دا تفاهم لیک د لاندې موخو د ترلاسه کولو په موخه لاسلیک شوی دی:

1- د دواړو لورو ترمنځ د علمي، څېړنیزو او فني اړیکو رامنځته کول او پیاوړتیا، څو د معیار جوړونې په برخه کې د تطبیقي، تخصصي او اړتیا محورو څېړنو ملاتړ وشي؛

2- د کابل پولي تخنیک پوهنتون د استادانو ترمنځ د تخصصي پوهې او تجربو تبادله د داخلي او نړیوالو معیارونو د تدوین، بیاکتنې او تحلیل په بهیر کې او همدارنګه د څېړنیزو فرصتونو برابرول، تر څو د معیار جوړونې له مفاهیمو او د کیفیتي زیربناوو له اصولو سره لا زیاته بلدتیا ترلاسه کړي؛

3- د تولیدي صنعتونو او وارداتي محصولاتو د ستونزو د پېژندنې او حل په موخه؛ د کیفیت د ښه والي او د اړوندو معیارونو سره د مطابقت په برخه کې د علمي، عملي او تطبیقي څېړنو ترسره کول.

## فصل اول
## عمومیات

**منظور از امضای تفاهم‌نامه**

**ماده اول:**

این تفاهم‌نامه به‌منظور بهره‌گیری حداکثری از ظرفیت‌های تخصصی و فنی طرفین، در راستای انجام فعالیت‌های علمی و تحقیقی، ارتقای کیفیت، نهادینه‌سازی فرهنگ استفاده از معیارها، تقویت ظرفیت‌ها و تربیت نیروی انسانی متخصص، متعهد به ارزش‌های دینی و جهانی کشور، به امضا رسیده است.

**اهداف**

**ماده دوم**

این تفاهم‌نامه به‌منظور دستیابی به اهداف ذیل به امضاء رسیده است:

1- ایجاد و تحکیم روابط علمی، تحقیقی و فنی میان طرفین، به‌منظور حمایت از تحقیقات تطبیقی، تخصصی و نیازمحور در عرصه معیارسازی؛

2- تبادل دانش و تجارب تخصصی استادان پوهنتون پولی‌تخنیک کابل در روند تدوین، بازنگری و تحلیل معیارهای داخلی و جهانی و فراهم‌سازی فرصت‌های تحقیقاتی برای آنان به‌منظور آشنایی بیشتر با مفاهیم معیارسازی و اصول زیربناهای کیفیت؛

3- انجام تحقیقات علمی کاربردی و تطبیقی به‌منظور شناسایی و رفع چالش‌های صنایع تولیدی و محصولات وارداتی، به‌ویژه در راستای بهبود کیفیت و مطابقت با معیارهای مربوطه؛

4- د کابل پولی‌تخنیک پوهنتون د استادانو لپاره د معیار او کیفیت اداري علمي او تخصصي- سرچینو ته لاسرسی برابرول، لکه: د داخلي معیارونو اسناد، ودانیزو رمزونو، فني او نور د کیفیتي زیربناوو اړوند منابع؛

5- په هغو موضوعاتو کې چې د مطابقت ارزونې، اعتبار ورکونې، اوزان او مقیاس، د کیفیت مدیریت او صنعتي او خدماتي معیار جوړونې سره تړاو لري د علمي او ګډو څېړنیزو پروژو هڅونه او ملاتړ؛

6- د علمي-څېړنیزو مقالو په چاپ او خپرولو کې متقابلې همکارۍ او همدارنګه د ګډو علمي پروګرامونو او غونډو تنظیم؛

7- د دواړو لورو د ګټو په موخه د مناسبو تګلارو رامنځته کول؛ د موجوده ظرفیتونو او امکاناتو د اغېزمن، هدفمند او دوامدار استعمال لپاره؛

8- د کابل پولی‌تخنیک پوهنتون د محصلانو لپاره د ظرفیت لوړونې، عملي زده‌کړو، پایلیکونو، د ډیپلوم پروژو او علمي رسالو د علمي او څېړنیزو معلوماتو زمینه مساعدول او په یادو برخو کې د اداري لازم امکانات برابرول.

**د همکارۍ ساحې**

**درېیمه ماده:**

لوري د دې تفاهم‌لیک له مخې په لاندې برخو کې له یو بل سره همکاري کوي:

1- د معیار جوړونې د بهیر پیاوړتیا او د اړتیاوو له مخې د علمي معلوماتو تبادله؛

2- د علمي، فني او تخصصي اړتیاوو پر اساس د ګډو تطبیقي او څېړنیزو پروژو ترسره کول؛

3- د معیار جوړونې او د کیفیت د تضمین په برخو کې د علمي مقالو، فني او څېړنیزو راپورونو، کتابونو او روزنیزو منابعو په ګډه چمتو کول او خپرول؛

4- فراهم‌سازی دسترسی استادان پوهنتون پولی‌تخنیک کابل به منابع علمی و تخصصی اداره معیار و کیفیت، از جمله اسناد معیارهای داخلی، رمزهای ساختمانی، فنی و سایر منابع مرتبط با زیربناهای کیفیت؛

5- تشویق و حمایت از تحقیقات علمی و پروژه های مشترک در موضوعات مرتبط با ارزیابی مطابقت، اعتباردهی، اوزان و مقیاس، مدیریت کیفیت، و معیارسازی صنعتی و خدماتی؛

6- همکاری متقابل در چاپ و نشر مقالات علمی-تحقیقی و همچنان برگزاری برنامه‌ها و نشست‌های علمی مشترک؛

7- ایجاد سازوکارهای مناسب برای استفاده مؤثر، هدفمند و پایدار از ظرفیت‌ها و امکانات مشترک در راستای منافع طرفین؛

8- فراهم‌سازی زمینه‌های ارتقای ظرفیت، آموزش عملی و تدوین پایان‌نامه‌ها، پروژه‌های دیپلوم و رساله‌های علمی برای محصلان پوهنتون پولی‌تخنیک کابل در اداره معیار و کیفیت، همراه با استفاده مطلوب از امکانات موجود.

**ساحات همکاری**

**ماده سوم:**

طرفین این تفاهم نامه در زمینه های ذیل با یکدیگر همکاری می‌نمایند:

1- تقویت روند معیارسازی و تبادل معلومات علمی بر اساس نیازمندی‌های طرفین؛

2- اجرای پروژه‌های تحقیقاتی مشترک و کاربردی مبتنی بر نیازهای علمی، فنی و تخصصی در حوزه معیارسازی؛

3- تهیه و نشر مشترک مقالات علمی، گزارش‌های فنی و تحقیقاتی، کتاب‌ها و منابع آموزشی در حوزه معیارسازی و تضمین کیفیت؛

4- د دواړو لورو د تخصصي امکاناتو او کتابتونونو څخه معقوله، مؤثره او هدفمنده ګټه اخیستنه؛

5- د داخلي معیارونو نهادینه پراختیا او ترویج کول؛

6- د معیار او کیفیت ادارې او د کابل پولي تخنیک پوهنتون د پوهنځیو له غړو څخه د علمي څېړنو په موخه ګډ څېړنیز هیئت جوړول؛

7- د معیار او کیفیت ادارې له لوري د استادانو او محصلانو لپاره د معیارونو د تدوین او ترویج په برخو کې علمي تحقیقاتي سمینارونه تر سره کول.

8- د معیارونو د نوې کولو او تازه کولو په برخو کې د دواړو لورو علمي او تخصصي مشورې وړاندې کول.

4- استفاده معقول، مؤثر و هدفمند از امکانات تخصصی و کتابخانه‌ها طرفین؛

5- نهادینه‌سازی، توسعه و ترویج استفاده از معیارهای داخلی؛

6- تشکیل یک هیئت تحقیقاتی از اعضای علمی اداره معیار و کیفیت و پوهنځی‌های پوهنتون پولی‌تخنیک کابل غرض تحقیقات علمي مشترک؛

7- برگزاری سیمینارها از سوی اداره معیار و کیفیت برای استادان و محصلان در بخش تدوین، ترویج و تطبیق معیارها؛

8- ارائه مشوره‌های علمی و تخصصی طرفین در زمینه‌های به‌روزرسانی معیارها.

## دوهم فصل
## ګډ توافقات او د لوریو ژمنې

### ګډ توافقات

### خلورمه ماده

د دې تفاهم‌لیک د مندرجو احکامو د لا ښه او اغېزمن تطبیق په موخه، لوري پر لاندې مواردو موافقه کوي:

1- د دې تفاهم‌لیک د مندرجو موادو د تطبیق لپاره حاکم نافذه تقنيني اسناد او په اداره کې حاکم اصول دي او د اداري محرمو اسنادو او اسرارو ساتنه، د فکري او معنوي ملکیت د حقونو رعایت او همدارنګه د قهري پېښو چې د دواړو له ارادې او کنټرول څخه بهر وي، په پام کې نیول حتمي دي؛

2- د دې تفاهم‌لیک د احکامو د اغېزمن تطبیق او څارنې په موخه، د لورو د متخصصينو اوذيصلاح مسئولينو څخه جوړ ګډ نظارتي او همغږي کوونکی هیئت رامنځته کېږي. دغه هیئت به د کابل پولی تخنیک پوهنتون له لوري درې (۳) استازي او د معیار او کیفیت ادارې له لوري درې (۳) استازي ولري، رسماً معرفي کېږي؛

3- ګډ نظارتي او همغږي کوونکی هیئت کولای شي د تفاهم‌لیک د مؤثر تطبیق لپاره لازمې کړنلارې او تګلارو طرح او عملي کړي؛

4- د کابل پولی تخنیک پوهنتون د استادانو او محصلانو او د معیار او کیفیت ادارې ترمنځ ګډې څېړنیزې چارې، د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره د پلانونو ترتیب، د منابعو مؤثر استعمال، منظمې ناستې، د کارکوونکو د ظرفیت لوړونه او د علمي ورکشاپونو، کنفرانسونو او سیمینارونو ترسره کول د ګډ نظارتي او همغږي کوونکي هیئت د پرېکړو پر اساس تنظیم او عملي کېږي؛

5- د دې تفاهم‌لیک د مندرجو فعالیتونو همغږي، په ځانګړې ډول د محصلانو لپاره د څېړنیزو فرصتونو برابرول د اړوند څانګو مطابق، د کابل پولی تخنیک پوهنتون له لوري (د څېړنو او علمي مجلو معاونیت) او د معیار او کیفیت ادارې له لوري (د معیارونو د مطالعاتو او څېړنو ریاست) تنظیم او عملي کېږي؛

## فصل دوم
## توافقات مشترک و تعهدات طرفین

### توافقات مشترک

### ماده چهارم

به منظور تطبیق بهتر و مؤثرتر احکام مندرج در این تفاهم‌نامه، طرفین به موارد ذیل توافق می‌نمایند:

1- قانون حاکم در تطبیق مفاد این تفاهم‌نامه، اسناد تقنینی نافذه و اصول حاکم بر اداره بوده و در عین حال، حفظ محرمانگی اسناد و اسرار اداری، رعایت حقوق مالکیت فکری و معنوی، و نیز در نظر گرفتن حوادث قهری خارج از اراده و کنترل طرفین، الزامی می‌باشد؛

2- به منظور تطبیق مؤثر و نظارت بر اجرای مفاد این تفاهم‌نامه، یک هیئت مشترک نظارتی و هماهنگی متشکل از متخصصین و مسئولین ذی‌صلاح طرفین ایجاد می‌گردد. این هیئت شامل سه (۳) نماینده از سوی پوهنتون پولی تخنیک کابل و سه (۳) نماینده از سوی اداره معیار و کیفیت بوده و اعضای آن رسماً معرفی می‌شوند؛

3- هیئت مشترک هماهنگی و نظارت می‌تواند جهت تطبیق مؤثر تفاهم‌نامه، میکانیزم‌ها و روش‌های لازم را طرح و عملی سازد؛

4- فعالیت‌های تحقیقاتی مشترک میان استادان و محصلان پوهنتون پولی تخنیک کابل و اداره معیار و کیفیت، ترتیب پلان‌ها با در نظر داشت اولویت‌های طرفین، استفاده مؤثر از منابع، تدویر جلسات منظم، ارتقای ظرفیت کارمندان، و برگزاری ورکشاپ‌ها، کنفرانس‌ها و سیمینارهای علمی، بر اساس تصمیم و فیصله هیئت مشترک هماهنگی و نظارت تنظیم و عملی می‌گردد؛

5- هماهنگی فعالیت‌های مندرج در این تفاهم‌نامه در بخش فراهم‌سازی فرصت‌های تحقیقاتی برای محصلان مطابق رشته، از سوی پوهنتون پولی تخنیک کابل (معاونیت تحقیقات و مجلات علمی) و از سوی اداره معیار و کیفیت (ریاست مطالعات و تحقیقات معیارها) تنظیم و عملی می‌گردد؛

6- د مراسلاتو او راپورونو ترتیب او اجرا د معیار او کیفیت اداري د مقام د دفتر ریاست له لارې او د کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري د علمي څېړنو معاونیت له لارې ترسره کېږي؛

7- هغه استادان او محصلین چې د څېړنیزو پروژو د اجرا، علمي رسالو د بشپړولو او نورو علمي فعالیتونو لپاره اړوندو برخو ته معرفي کېږي، د کاري خوندي شرایطو تابع وي او د دواړو لورو د ذیصلاح مسئولینو له اجازې پرته د فني منابعو او تأسیساتو د استعمال حق نه لري؛

8- ټول معلومات، اسناد او د څېړنو پایلې چې د دې تفاهملیک د تطبیق پر مهال په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ترلاسه کېږي او محرم ګڼل کېږي، د همدې تفاهملیک له مخې خوندي ساتل کېږي او د دواړو لورو له لیکلي رضایت پرته له درېیمو اشخاصو سره نه شریکېږي؛

9- د ګډو څېړنو د پایلو خپرولو ملاتړ، د علمي مقالو، فني راپورونو او نورو تخصصي اسنادو په بڼه، د لوزو له توافق سره سم ترسره کېږي.

**د لورو ژمنې**

**پنځمه ماده:**

**الف: د معیار او کیفیت اداري ژمنې**

د دې تفاهملیک له مخې، د معیار او کیفیت اداره په لاندې مواردو ژمنه ده:

1- داخلي معیارونه او د ودانیز رمزونه، د ځانګړو او تطبیق وړ شرایطو په چوکاټ کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون د استادانو او محصلینو لپاره د اداري علمي او تخصصي منابعو ته د لاسرسي برابرول؛

2- د معیار جوړونې، کیفیت، اوزان او مقیاس، د مطابقت ارزونې او نورو اړوندو برخو کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون د استادانو او محصلانو لپاره د علمي ظرفیت لوړونې په موخه د روزنیزو پروګرامونو، ورکشاپونو، سیمینارونو او علمي ناستو تدویر؛

6- تنظیم و اجرای مراسلات و گزارش‌ها از طریق ریاست دفتر مقام اداره معیار و کیفیت و از سوی پوهنتون پولیتخنیک کابل از طریق معاونیت تحقیقات علمی صورت می گیرد؛

7- استادان و محصلینی که جهت اجرای پروژه‌های تحقیقاتی، تکمیل رساله‌های علمی و سایر فعالیت‌های علمی به بخش‌های مربوطه اداره معیار و کیفیت معرفی می‌گردند، مکلف به رعایت شرایط ایمنی کار بوده و بدون اجازه مسئولین ذی‌صلاح طرفین، مجاز به استفاده از منابع فنی و تأسیسات نمی‌باشند؛

8- تمامی معلومات، اسناد و نتایج تحقیقات که در جریان تطبیق مفاد این تفاهم‌نامه به صورت مستقیم یا غیرمستقیم به دست می‌آید و محرمانه تلقی می‌گردد، مطابق این تفاهم‌نامه حفظ شده و بدون رضایت کتبی طرفین، با اشخاص ثالث به اشتراک گذاشته نمی‌شود؛

9- حمایت از نشر نتایج تحقیقات مشترک در قالب مقالات علمی، گزارش‌های فنی و سایر اسناد تخصصی مورد توافق طرفین قرار می‌گیرد.

**تعهدات طرفین**

**ماده پنجم**

**الف: تعهدات اداره معیار و کیفیت:**

به موجب این تفاهم‌نامه، اداره معیار و کیفیت متعهد به اجرای موارد ذیل می‌باشد:

1- فراهم‌سازی دسترسی استادان و محصلان پوهنتون پولیتخنیک کابل به منابع علمی و تخصصی اداره، از جمله معیارهای داخلی و کُدهای ساختمانی در چارچوب شرایط مشخص و قابل تطبیق؛

2- تدویر برنامه‌های آموزشی، ورکشاپ‌ها، سیمینارها و نشست‌های علمی برای استادان و محصلان پوهنتون پولی‌تخنیک کابل در حوزه‌های معیارسازی، کیفیت، اوزان و مقیاسات، ارزیابی مطابقت و سایر بخش‌های مرتبط، به منظور ارتقای ظرفیت علمی و فنی؛

3- د دواړو لورو د توافق او موجودو امکاناتو په پام کې نیولو سره د معیار او کیفیت ادارې د فعالیتونو اړوند د څېړنیزو اړتیاوو پېژندنه او د کابل پولي تخنیک پوهنتون ته د هغو لېږل او د تطبیقي پروژو په صورت کې د پوهنتون د استادانو ته لومړیتوب ورکول؛

4- د دواړو لورو د علاقې وړ برخو کې د ګډو څېړنیزو پروژو د تطبیق لپاره د فرصتونو برابرول؛

5- د کابل پولي تخنیک پوهنتون د وړاندیز شویو څېړنیزو پروژو ارزونه او د هغو د کیفیت د لوړولو او د داخلي اړتیاوو سره د برابرولو په موخه علمي نظرونه وړاندې کول.

**ب: د کابل پولي تخنیک پوهنتون ژمنې:**

د دې تفاهم‌لیک له مخې، د کابل پولي تخنیک پوهنتون په لاندې مواردو ژمن دی:

1- د فني هیئتونو، مشورتي ناستو، ګډو علمي پروژو او د معیار او کیفیت ادارې اړوندو نورو فعالیتونو کې د اړتیا او د ادارې د غوښتنې له مخې د استادانو د غړو معرفي کول؛

2- د معیار جوړونې او کیفیت په برخه کې د پوهنتون د استادانو له خوا ترسره شوې علمي څېړنې، مقالې او نور علمي اثار د معیار او کیفیت ادارې ته استول؛

3- د معیار او کیفیت ادارې د کارکوونکو لپاره د کابل پولي تخنیک پوهنتون د کتابتون د استفادې زمینه برابرول؛

4- د کابل پولي تخنیک پوهنتون په علمي کنفرانسونو او ناستو کې د معیار او کیفیت ادارې د استازو بلنه ورکول؛

5- د کابل پولي تخنیک پوهنتون د فعالیتونو د ښه والي او پرمختګ په موخه د معیار او کیفیت ادارې د متخصصینو له تخصصي او مسلکي نظرونو څخه ګټه اخیستل؛

6- د کابل پولي تخنیک پوهنتون د استادانو او محصلانو هڅول چې خپلې څېړنیزې موضوع ګانې د معیار او کیفیت ادارې د اړتیاوو مطابق وټاکي او د هغو پایلې له یادې ادارې سره شریکې کړي؛

7- د پوهنتون د خپرو شویو علمي څېړنو پایلو او علمي مجلو د اړوندې کارې ساحې په پام کې نیولو سره د معیار او کیفیت ادارې ته استول؛

3- شناسایی نیازهای تحقیقاتی مرتبط با حوزه فعالیت اداره معیار و کیفیت و ارسال آن به پوهنتون پولی تخنیک کابل، و در صورت اجرای پروژه‌های تطبیقی، اولویت‌دهی به استادان پوهنتون با در نظر داشت توافق طرفین و امکانات موجود؛

4- فراهم‌سازی زمینه و فرصت‌های اجرای پروژه‌های تحقیقاتی مشترک در بخش‌های مورد علاقه طرفین؛

5- ارزیابی پروژه‌های تحقیقاتی پیشنهادی پوهنتون پولی تخنیک کابل و ارائه نظرات علمی به منظور ارتقای کیفیت و تطبیق آن‌ها با نیازهای داخلی.

**ب: تعهدات پوهنتون پولی‌تخنیک کابل:**

به موجب این تفاهم‌نامه، پوهنتون پولیتخنیک کابل متعهد به اجرای موارد ذیل می‌باشد:

1- معرفی استادان و اعضای کادر علمی جهت اشتراک در هیئت‌های فنی، جلسات مشورتی، پروژه‌های مشترک علمی و سایر فعالیت‌های مرتبط با اداره معیار و کیفیت، در صورت نیاز و به درخواست اداره؛

2- ارسال تحقیقات علمی، مقالات و سایر آثار علمی تولیدشده توسط استادان پوهنتون در زمینه معیارسازی و کیفیت، به اداره معیار و کیفیت؛

3- فراهم‌سازی زمینه استفاده کارمندان اداره معیار و کیفیت از کتابخانه پوهنتون پولی‌تخنیک کابل؛

4- دعوت از اعضای اداره معیار و کیفیت در کنفرانس‌ها و نشست‌های علمی پوهنتون پولی‌تخنیک کابل؛

5- بهره‌گیری از نظرات تخصصی و مسلکی متخصصین اداره معیار و کیفیت در راستای بهبود و ارتقای فعالیت‌های پوهنتون پولیتخنیک کابل؛

6- تشویق و ترغیب استادان و محصلان پوهنتون پولی‌تخنیک کابل به تعیین موضوعات تحقیقاتی مطابق نیازهای اداره معیار و کیفیت و به اشتراک‌گذاری نتایج آن با اداره مذکور؛

7- ارسال نتایج تحقیقات علمی منتشرشده و مجلات علمی پوهنتون پولی‌تخنیک کابل به اداره معیار و کیفیت با در نظر داشت حوزه کاری مرتبط؛

8- د معيار جوړونې، د کيفيت مديريت، ابتکاراتو او نورو اړوندو برخو کې د روزنيزو، څېړنيزو پروګرامونو، ورکشاپونو او تخصصي سيمينارونو په ترسره کولو کې همکاري؛

9- د پوهنتون د نشراتي پاليسي مطابق د کابل پولي تخنيک پوهنتون په ژورنالونو کې د معيار او کيفيت ادارې د محققينو او فني کارپوهانو د علمي مقالو د خپرولو په برخه کې همکاري، چې د تحريري بورډ او داورانو له لوري تاييد شي؛

10- د انجينري معيارونو د جوړولو او نوې کولو په برخه کې د معيار او کيفيت ادارې د څېړنيزو فعاليتونو ملاتړ؛

11- په ټولو ګډو فعاليتونو کې د مسلکي، اخلاقي او فني معيارونو مراعتول؛

12- علمي سيمينارونو، د ډيپلوم پروژو دفاع، کنفرانسونه او څېړنيزو ورکشاپونوکې د کابل پولي تخنيک پوهنتون او د معيار او کيفيت ادارې په ګډو علمي محافلو کې د نشراتو برخې د مهمو کارکوونکو بلنه.

**مالي چارې**

**شپږمه ماده:**

1- د دې تفاهم ليک په چوکاټ کې د ذکر شوو فعاليتونو تطبيق هېڅ يوه لوري ته مالي مکلفيت نه رامنځته کوي؛

2- هغه فعاليتونه چې مالي لګښت ته اړتيا ولري، د مالي وجوهاتو اندازه او د برابرولو طريقه به د ګډې همغږۍ او نظارت هيئت له لارې ترتيبېږي او د دواړو لورو د ذيصلاح مسؤلينو له تأييد وروسته به پرې اقدام کېږي؛

**اوومه ماده:**

**د اختلافاتو او شخړو حل**

هر ډول اختلافات چې د دې تفاهم ليک د موادو د تطبيق له امله رامنځته کېږي، د ګډې نظارتي هيئت له لارې حل‌وفصل کېږي او د دريم مرجع ته د مراجعې اړتيا نه وي. که چېرې اختلافات حل نه شي، لوري کولای شي د تفاهم ليک د جزئي يا کلي تعديل او بياکتنې له لارې اقدام وکړي.

8- همکاری در تدویر برنامه‌های آموزشی، تحقیقاتی، ورکشاپ‌ها و سمینارهای تخصصی در موضوعات معیارسازی، مدیریت کیفیت، ابتکارات و سایر زمینه‌های مرتبط؛

9- همکاری در زمینه نشر مقالات علمی-تحقیقی اعضا، محققین و کارشناسان فنی اداره معیار و کیفیت پس از تأیید هیئت تحریر و داوران، در ژورنال‌های پوهنتون پولی‌تخنیک کابل مطابق پالیسی نشراتی پوهنتون؛

10- حمایت از فعالیت‌های تحقیقی اداره معیار و کیفیت در راستای تدوین و به‌روزرسانی معیارهای انجنیری؛

11- رعایت معیارهای حرفه‌ای، اخلاقی و فنی در تمامی فعالیت‌های مشترک؛

12- دعوت از کارمندان کلیدی بخش نشرات اداره معیار و کیفیت در محافل علمی مشترک پوهنتون پولیتخنیک کابل و اداره معیار و کیفیت، شامل همایش‌ها، دفاعیه‌های پروژه‌های دیپلوم، سمینارها، کنفرانس‌ها و ورکشاپ‌های تحقیقی.

**امور مالی**

**ماده ششم**

1- تطبیق فعالیت‌های مندرج در این تفاهم‌نامه، به هیچ یک از طرفین بار مالی ایجاد نمی‌کند؛

2- فعالیت‌هاي كه نیاز به وجوه مالی دارند، وجوه مالی و طرز آماده کردن آن از طریق کمیته مشترک هماهنگی نظارت ترتیب و بعد از تایید مسؤلین ذیصلاح طرفین در زمینه رسیدگی می‌شود.

**حل اختلافات و منازعات**

**ماده هفتم**

هرنوع اختلافات ناشی از تطبیق مواد مندرج این تفاهم‌نامه، از طریق کمیته مشترک نظارت حل‌وفصل گردیده و نیاز مراجعه به مرجع ثالث نمی‌باشد. در صورت حل نشدن اختلافات، طرفین می‌تواند به تغییر و بازنگری جزئی و یا کلی تفاهم‌نامه متوسل شوند.

**بیاکتنه، اصلاح او بدلون**

**اتمه ماده**

1- طرفین کولای شي د دې تفاهم لیک د جزئي یا کلي بیاکتنې، اصلاح او بدلون په اړه خپلې غوښتنې په تحریري ډول مقابل لوري ته وړاندې کړي؛

2- هغه بیاکتنې، اصلاحات او بدلونونه چې پرې د طرفینو ترمنځ پرې توافق وشي، د تفاهم لیک نه بېلېدونکې برخه ګڼل کېږي؛

3- هر ډول بیاکتنه، اصلاح او بدلون هغه وخت د تطبیق وړ ګرځي چې د ګډې نظارتي او همغږۍ پلاوی له لارې او د طرفینو د ذیصلاح استازو ترمنځ پرې توافق شوی وي؛

4- هر ډول بیاکتنه، اصلاح او بدلون چې د دې تفاهم لیک د موادو د تطبیق په بهیر کې د طرفینو له خوا وړاندیز او تأیید شي، د هغو حقوقي اساساتو او تعهداتو پر اساس اغېز نه کوي چې د همدې سند پر اساس پرې لاسلیک شوی دی.

**د اعتبار موده، تمدید او فسخ**

**نهمه ماده**

دغه تفاهم لیک د دوه (۲) کلونو لپاره د اعتبار وړ ده.که چېرې د ټاکلې مودې له بشپړېدو وروسته د کوم لوري له خوا د فسخې غوښتنه موجوده نه وي، نو دا تفاهم لیک د (۲) نورو کلونو لپاره په خپله تمدید شوې ګڼل کېږي. هغه لوری چې د تفاهم‌نامې د فسخ غوښتنه لري، مکلف دی چې لږ تر لږه درې (۳) میاشتې مخکې خپله غوښتنه په تحریري ډول مقابل لوري ته وسپاري. ناتکمیل شوې فعالیتونه د فسخې تابع نه ګرځي.

**<u>تجدید نظر، اصلاح و تغییر</u>**

**ماده نهم**

1- طرفین می‌توانند تقاضاهای خویش را مبنی بر تجدید نظر، اصلاح و تغییر جزئی یا کلی این تفاهم‌نامه به شکل تحریری به جانب مقابل پیشنهاد نمایند؛

2- تجدید نظر، اصلاح و تغییراتی که طرفین روی آن‌ها توافق به عمل آورده باشند، جزء تفاهم‌نامه محسوب می گردند؛

3- هرگونه تجدید نظر، اصلاح و تغییر، زمان مورد اجرا قرار می گیرد که از طریق کمیته مشترک نظارت و هماهنگی و نماینده‌های ذیصلاح طرفین روی آن‌ها اتفاق نظر صورت گرفته باشد؛

4- هرنوع تجدید نظر، اصلاح و تغییری که در جریان تطبیق مواد تفاهم‌نامه بین مقام های طرفین، از سوی طرفین پیشنهاد شود و بعد ازتایید مبنای حقوقی و تعهداتی که براساس آن این سند به امضا رسیده است، متأثر نخواهد شد.

**<u>مدت اعتبار، تمدید و فسخ</u>**

**ماده دهم**

این تفاهم‌نامه برای (۲) پنج سال قابل اعتبار می‌باشد، در صورتی که بعد از تکمیل زمان تعیین شده تقاضای یکی از طرفین مبنی برفسخ آن موجود نباشد، برای (۲) سال دیگر خود به خود تمدید شده محسوب می‌گردد. طرف متقاضی فسخ تفاهم‌نامه، باید (۳) ماه قبل، تقاضای خویش را تحریری به طرف مقابل تقدیم نماید. فعالیت‌های ناتکمیل تابع فسخ نمی‌شود.

**د اجرا وړ ګرځېدل**

**لسمه ماد**

دغه تفاهم لیک په لسو (۱۰) مادو کې ترتیب شوې او د طرفینو د ذیصلاح استازو له لاسلیک وروسته ابلاغ او د تطبیق وړ ګرځي.

**مرعی الاجرا شدن**

**ماده دهم**

این تفاهم‌نامه در (۱۰) ماده ترتیب و بعد از امضای نماینده‌های ذیصلاح طرفین ابلاغ و مرعی الاجرا می‌باشد.

**د لوریو د صلاحیت لرونکو استازو لاسلیک**

**امضای نمایندگان با صلاحیت طرفین**

**د معیار او کیفیت ادارې له خوا:**

**نوم:** مولوی محمد آصف قانت

**موقف:** د معیار او کیفیت ادارې د تخنیکی چارو مرستیال

**پته: صنعتي پارکونه ، د کابل- جلال اباد لویه لار ، کابل افغانستان**

**تماس شمیري:** +۹۳۰۲۰۲۳۲۰۱۱۸

**ایمیل آدرس:** sr.center@asqa.gov.af

**ویب‌سایت:** www.asqa.gov.af

لاسلیک ..............................

مهر ..............................

نېټه ..............................

**از جانب پوهنتون پولی‌تخنیک کابل:**

**نام:** مولوی محمد موسی فاروق

**موقف:** رئیس عمومی پوهنتون

**نشانی:** کارته مامورین، ناحیه پنجم، کابل - افغانستان

**شماره تماس:** 0202526381

**ایمیل آدرس:** chancellor@kpu.edu.af

**ویب‌سایت:** www.kpu.edu.af

امضا ..............................

مهر ..............................

تاریخ ..............................